د عوايدو
لوی
رياست

# ۱۱ لارښود

## د ماليې په ارزونه کې دورکړې وړ ماليې دمبلغ په اړه بحث



### سريزه

دهرهغه شخص لپاره چې دخپل ذمت دماليې ارزونې (ټاکنې) څخه ناخوښ وي، د مالياتي شخړودرسمي حل پروسه د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې د مالياتو په قانون کې معرفي شوې ده (۸۹ ماده). دا پروسه درې مرحلې لري. لومړۍ مرحله، ماليه ورکوونکي کولای شي چې د مالياتو د ارزونې (ټاکنې) د تعديل لپاره درخواست وکړي. دويمه مرحله، د تعديل د غوښتنليك (درخواستي) د پايلو څخه د نه رضايت په صورت کې نوموړي شخص کولای شي دماليې دارزونې په مقابل کې خپل اعتراض ليك وړاندې کړي. او په پای کې دريمه مرحله دا ده چې هغه شخص چې له اعتراض ليك څخه له لاس ته راغلو پايلو څخه هم خوښ نه وي، نوموړي کولای شي اړوندې محکمې ته خپله دعوا وړاندې کړي.

ددې لارښود موخه ماليه ورکوونکي ته د هغو موضوعاتو په اړه معلومات برابرول دي چې کيدای شي د مالياتي شخړو دحل درسمي پروسې ،د ماليې دارزونې د تعديل او يا د اعتراض د پروسې لامل وګرځي، او همدارنګه د هغو طرزالعملونو او وخت بيانوونکي ده چې له مخې ئې دعوايدو لوی رياست په قانوني اقداماتولاس پورې کوي.

د تعديل په غوښتنليك، اعتراض او يا د دعوا په غوښتنليك کې کوم موضوعات شامليدای شي؟

که چيرې يوشخص مالياتي اظهارليك وړاندې کړی وي يا د ماليې دارزونې يادداښت يې لاس ته راوړې وي او پدې باور ولري چې اظهارليك سم ندی اويا ماليه سمه نه ده ارزول شوې ، نوموړې شخص کولای شي د اظهارليك او د ماليې دارزونې د يادداښت د تعديل غوښتنه وکړي.

د مالياتي اظهارليك يا د ماليې دارزونې ديادداښت په اړه غوښتنليك او يا اعتراض ليك هغه وخت وړاندې کيدای شي که چيرې:

الف – يوشخص پرعايداتو باندې د مالياتو اظهارليک او يا د انتفاعي معاملومالیې فورمه وړاندې کړې وي او بيا پوه شي چې په هغې کې غلطي شوې ده.

ب -- يوشخص پرعايداتو باندې د مالياتو اظهارليک او يا د انتفاعي معاملومالیې فورمه وړاندې کړې وي خو دماليې وزارت ، دعوايدو لوی رياست د ورکړې وړ ماليه تصحيح کړې وي او

یا ئې مالیاتي جریمې وضع کړې وي او همدارنګه دارزونې یادداښت یې صادرکړی وي.

ج - دیوشخص لخوا هیڅ ډول مالیاتي اظهارلیك نه وي وړاندې کړل شوی او د مالیې دوزارت د عوایدو لوی ریاست یوه مالیاتي ارزونه چې پرعایداتو باندې مالیه، دانتفاعي معاملو مالیه او یا جریمې یې وضع کوي ، صادره کړې وي.

د - یو شخص ثابت مالیات د وروستیو مالیاتو په توګه چې پر عایداتو باندې د کلنې مالیاتو پرځای تطبیقیږي، تادیه کړې وي.

دارزونې دیادداښت دتعدیل لپاره رسمي غوښتنلیك یا اعتراض لیك په ټولو حالاتو کې صورت نه شي موندلی. د بیلګې په توګه، د لاندې موضوعاتو په اړه د تعدیل رسمي غوښتنه او یا اعتراض صورت نه شي موندلی:

۱ - دموضوعي مالیې لکه دمعاشونو اوکرایې دموضوعي مالیې دمحاسبې او ورکړې موضوع
۲ — هغه ثابت مالیات چې په وارداتو او صادراتو باندې تطبیقیږي او پر عایداتو باندې د کلنې مالیاتو د ټاکنې تطبیق په موخه مجرایې ورکول کیږي.
۳ - دیوشخص دمالیاتي موضوعاتو، د هغو اسنادو په ګډون چې د مالیاتو وړاندیز شوې ارزونه (ټاکنه) نښیې، دبیاکتنې په جریان کې ترسره شوې هره پریکړه.
۴ - د قانون دپلي کوونې یا دمالیه ورکوونکو دمنښت دبرخو هغه اقدامات چې د عوایدو دلوی ریاست د کارکوونکو او یا دنورو دولتې کارکوونکو لخوا تر سره کیږي.
۵ - د قانون هرډول تعبیر او تفسیر یا د مالیې وزارت له خوا صادر شوې عامه او خصوصي طرزالعملونو کې ذکر شوې پریکړه
۶ - هر ډول مکتوبونه یا اظهارات چې د مالیې وزارت، دعوایدو لوی ریاست د کارکوونکو او یا د هر بل شخص لخوا صادر شوي وي.
۷ - هغه مالیات یا اجورې چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون مطابق نه وضع کیږي.

که چیرې یو شخص له هغې پریکړې یا اقدام سره موافق نه وي چې د عوایدود لوی ریاست د کارکوونکې لخوا شوي ده او په دغه حالت کې د تعدیل یا اعتراض غوښتنه هم شونې نه وي، نوموړې کولای شي چې دا موضوع د عوایدو دلوی ریاست مقاماتو ته دمتبادل حل لپاره راجع کړي.

د رسمي شخړو د هوارې یوه موضوع څنګه او څه وخت پیل کیږي؟

د شخړو د حل رسمي پروسه باید د مالیې د دارزونې د تعدیل یعني دارزونې دیادداښت یاټاکلې ارزونې چې دځانې ارزونې ترشرایطو لاندې دوړاندې کړل شوې اظهارلیک پربنسټ سرته رسیدلې وي، په اړه دغوښتنلیك له وړاندې کولو سره پیل شي. د تعدیل غوښتنلیك باید په لیکلې توګه دهغه نیټې څخه چې په کې داړوند اظهارلیک په وړاندې کولو مکلف شوي وئ، تر پنځو کلونو پورې وړاندې شي .

که چیرې دارزونې یادداښت دیرش ورځې مخکې دپنځوکالو دپوره کیدو څخه تاسو ترلاسه نکړ. دارزونې دتعدیل لپاره غوښتنلیک دارزونې دترلاسه کولو وروسته ددیرش ورځو په موده کې وړاندې کیدای شي.

د مالیې دارزونې دیاددابښت سره نا رضایت پدې معنا نه دې چې د ټاکل شوې مالیې ورکړه وځنډول شي او یا ئې له ورکولو نه ډډه وشي.

## د شخړو د حل رسمي پروسه

د مالیاتي شخړو د حل رسمي پروسه لاندي مرحلې لري او هره مرحله ئې باید په لاندي ترتیب سره اجرا شي:

## لومړۍ مرحله

د تعدیل غوښتنلیك په لیکلي توګه سپارل کیږي. نوموړې غوښتنه د هغې ځانګړې فورمې نه په استفادې سره صورت مومي چې دعوایدو لوی ریاست لخوا برابره شوې ده. دا فورمه د مالیې وزارت له ویب پاڼې څخه هم لاس ته راوړل کیدای شي. د غوښتنې په فورمه کې باید پر عایداتو باندې د مالیاتو د اظهارلیك (ارزول شوې مالیه یا د عوایدو دلوی ریاست دمالیې دارزونې یادداښت په اړه د ناخوښۍ دلایل په روښانه توګه بیان شي. تاسو باید ارزول شوې مالیې یا دارزونې دیادداښت چې دتعدیل غوښتنه یې کیږي داړوند مرستندویه (حمایوي) معلوماتو او د ټولو اسنادودیو نقل سره د مدارکوپه توګه له غوښتنلیك سره ضمیمه کړئ.

د مالیې دارزونې دیادداښت د تعدیل غوښتنه باید په ملي ژبو (دري او پښتو) لیکل شوې وي. د غوښتن لیك انګلیسي نقل د پروسې د ګړندي کولو لپاره استفاده کیداې شي. دا ضروري نه ده چې په انګلیسي ژبې ضمیمه شوي اسناد په ملي ژبو ترجمه شي. که چیرې نوموړې اسناد د پښتو ، دري او یا انګلیسي نه پرته په نورو ژبو لیکل شوي وي، باید له دې ژبو څخه یوې ته ترجمه شي.

د مالیې ټاکنې یادښت د تعدیل غوښتن لیك او هغۀ سره ضمیمه شوي اسناد هغۀ عملیاتي دفتر ته چې د اظهارلیکونو او یا د مالیاتو دارزونې (ټاکنې) د یادداښتونو راټولو مسئولیت په غاړه لري، تسلیمیږي.

## دویمه مرحله

دعوایدو لوی ریاست د هغو اسنادو او دلایلو په پام کې نیولو سره دا موضوع ارزوي چې د مالیه ورکوونکي لخوا د مالیې دارزونې (ټاکنې) یادښت په اړه د تعدیل غوښتن لیك پر بنسټ وړاندې شوي دي. کله چې د مالیې وزارت د موضوع په اړه ډیروضاحت وغواړي، نو مالیه ورکوونکې د اضافي معلوماتو او اسنادوپه برابرولو مکلف دې. کیدای شي له تاسې څخه داهم وغوښتل شي چې پخپله یا د صلاحیت لروونکي استازي په واسطه خپل دتعدیل دغوښتنلیك دفاع وکړئ اود اړتیا په صورت کې نور مرستندویه (حمایوي) سندونه هم وړاندې کړئ.

**دعوایدو لوی ریاست زیاراوباسي چې دتعدیل غوښتنلیک اړوند مالیاتي دفتر ته اویا داعتماد وړ پوستي خدمتونو دفتر ته دلیږلو دنیټې څخه تر ۲۰ ورځو پورې د غوښتنلیك په اړه پریکړه وکړي. په هغه صورت کې چې دتعدیل غوښتنلیک دوړاندې کوونې دنیټې څخه تر شپیتمې (۶۰) ورځې پورې دعوایدو دلوی ریاست لخواځواب نه شي دابايد وګڼل شي چې دعوایدو لوی ریاست ددغه غوښتنلیک په اړه منفي ځواب لري.**

## دریمه مرحله

که چیرې تاسو د تعدیل دغوښتنلیک په اړه له شوې پریکړې څخه راضي نه یاست اویا دتعدیل غوښتنلیك له وړاندې کولو څخه ۲۰ ورځې تیرې شي او په اړه یې کومه پریکړه ونه شي، نو تاسې کولای شي خپل اعتراض لیك وړاندې کړي.

اعتراض لیك باید دعوایدو لوی ریاست لخواد تعدیل د غوښتنلیك د ځواب له لاسته راوړلو نه وروسته د ۳۰ ورځو په موده کې او یا د تعدیل غوښتن لیك په اړه د ځواب دنه لاسته راوړلو په صورت کې د شپیتمې (۶۰) ورځې څخه وروسته تر ۳۰ ورځو پورې وړاندې کړل شي.

د اعتراض غوښتنلیك هم په لیکلي توګه ورکول کیږي. تاسې باید د اعتراض دغوښتنلیک دهغه فورمې څخه چې دعوایدو لوی ریاست لخوا ورکول کیږي او د دغه وزارت له بریښنا پاڼې څخه هم ترلاسه کیدای شي، استفاده وکړئ. د غوښتنې پدې فورمه کې باید د تعدیل دغوښتنلیک له ځواب سره د ناخوښۍ دلیلونه په ځرګند ډول بیان شي.

تاسو باید مرستندویه اضافي معلومات او د اړوندو اسنادو نقلونه د مدارکو په توګه له دخپل اعتراض لیک سره ضمیمه کړئ. مګردتعدیل په درخواست کې د ورکړل شوواسنادو بیا ضمیمه کولو ته اړتیا نشته. اعتراض لیك باید په ملي ژبو (دري او پښتو) لیکل شوي وي. د اعتراض لیك انګلیسي نقل د پروسې د ګړندي کولو لپاره استفاده کیداې شي. په انګلیسي ژبه د ضمیمه شوو اسنادو ژباړلو ته اړتیا نشته. که چیرې نوموړي اسناد د پښتو ، دري او یا انګلیسي نه پرته په نورو ژبولیکل شوي وي، باید له دې ژبو څخه یوې ته وژباړل شي.

د اعتراض لیك او ورسره مرستندویه ضمیمه شوي اسناد باید په لاندې پته واستول شي.

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست
د عریضو او شکایاتو آمریت
کابل، افغانستان

## څلورمه مرحله

دعوایدو لوی ریاست په اعتراض لیك کې د ورکړل شوو مرستندویه اسنادو او دلیلونو په پام کې نیولو سره ستاسې د تعدیل دغوښتنلیك، اظهارلیک او دمالیې دارزونې دیاددابښت په اړه شوې پریکړې په ځیر سره ارزوي. که چیرې د دعوایدو لوی ریاست د موضوعاتو په اړه ډیروضاحت وغواړي، نوله تاسو څخه به وغوښتل شي چې د اضافي معلومات او اسناد برابر کړئ اوهمدارنګه که چیرې دقضیې دحل لپاره ورته اړتیا ولیدل شي نو خپله ستاسې یاستاسې دصلاحیت لرونکي استازې اودعوایدو دلوی ریاست دکارکوونکو په واسطه وړاندې شوې توضیحات او لیکلې یا شفاهي ځرګندونې به یاددابښت شي. که چیرې اضافي سندونه ددغه قضیې دحل لپاره ګټور وې دهغې لپاره به له تاسې او دعوایدو لوی ریاست دکارکوونکو څخه په لیکلې توګه غوښتنه وشي.

د شکایاتو اوریدو ځانګړې هیئت چې د عوایدو دلوی ریاست دریې تنه جګپوړې او واکمن کارکوونکې پکې غړیتوب لري، د غوښتنلیك له ترلاسه کولو نه وروسته په ۶۰ ورځو کې د اعتراض لیك په اړه پریکړه کوي.

## پنځمه مرحله

که چیرې تاسې د اعتراض لیك په اړه خوښ نه وې او یا ئې د اعتراض لیك په اړه په ۶۰ ورځو کې کومه پریکړه ونه شي ، نوتاسې کولاې شي چې موضوع د ارزونې لپاره اړوندې محکمې ته راجع کړئ. د مالیه ورکوونکې لخوا محکمې ته د موضوع راجع کول باید د ا عتراض لیك د ځواب له لاس ته راوړلو او یا د اعتراض لیك د تسلمیدو له معیاد یعنې ۶۰ ورځو مودې دتیریدو نه وروسته په ۳۰ ورځو کې صورت ونیسي.

## دهغې مالیې ورکړه چې شخړه پرې رامنځ ته شوې ده

دا چې مالیه‌ورکوونکي د مالیې دارزونې یادداښت د تعدیل او یا د اعتراض لیک وړاندې کړې دې او که نه، د لومړي معلوم شوي یادداښت پر اساس ارزول (ټاکل) شوې مالیه د مالیه ورکوونکي دورکړې وړ مالیې په توګه پاتې کیږي او باید تادیه یې کړي. که چیرې ټاکل شوې مالیه په ټاکلې موده کې تادیه نه شي نو د مالیې د ځنډ له کبله دورکړې وړ مالیې سربیره نوره اضافي مالیه هم وضع کیږي. سربیره پر دې، د ۱۳۸۷ کال پرعایداتوباندې د مالیاتو قانون د احکامو له مخې دعوایدو لوی ریاست د نا ورکړل شوو مالیو د لاس ته راوړو په موخه د تطبیقي اجرااتو د پلي کولو واك لري.

هغه اشخاص (مالیه ورکوونکي) چې د مالیې ټاکنې (ارزونې) د تعدیل یادداښت یا اعتراض لیک په غوښتنو کې بریالی شي نودهغې مالیې د بیا ترلاسه کولو مستحق ګرځي چې هغه ورکړې وي.

## اجوره او فیس

د شخړو د حل په ټوله رسمي پروسه کې د مالیې وزارت، دعوایدولوی ریاست ته اجوره او یا فیس نه تادیه کیږي او د فورمو د ترلاسه کولو په بدل کې هم اجوره یا فیس نه اخیستل کیږي خوکه چیرې موضوع محکمې ته راجع شي، کیدای شي محکمه اجوره یا فیس واخلي.

## ګمرکي محصول اونور مالیات

د مالیاتي شخړو د حل رسمي پروسه چې پدې لارښود کې بیان شوې ده د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د احکامو پر اساس رامنځ ته شوې ده. ځکه نو پرعایداتو باندې د مالیاتو ددغه قانون مطابق وضع شویو مالیاتو پورې اړوندې موضوګانې ددې پروسې له مخې حل او فصل کیږي.د شخړو د حل پروسه چې د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې مالیاتوقانون سره سم ورڅخه استفاده کیږي د دنورو مالیاتو لکه د ګمرکي محصول د شخړو لپاره تړې ګڼته نه شي پورته کیدای. د ګمرکي محصول په اړه د شخړو د حل لپاره د مالیې وزارت د ګمرکاتوله ریاست سره په کابل کې اړیکې ټینګې کړئ.

## تطبیقي حکمونه

د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د احکامو څخه د نه پیروي کولو په پایله کې کیدای شي دعوایدو دلوی ریاست دمالیه ورکوونکو دمننبت په موخه تطبیقي او جزایي احکام تطبیق کړي ددغواحکامو د تطبیق واك پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون مطابق د مالیې وزارت، دعوایدو لوی ریاست ته ورکړل شوی دی. تطبیقي او جزایي احکام د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون په ۱۴ او ۱۲ فصلونو کې بیان شوي دي او اضافي مالیه او جریمې په برکې لري. کله چې نه منبنت د مالیې څخه دتیښتې په موخه وي نو په هغه صورت کې شخص لوی څارنوالۍ ته دمحاکمې او پلټنو لپاره ورپیژندل کیږي.

## مالیاتي معلومات

په http://www.ard.gov.af کې دمالیه ورکوونکي دمعلوماتو پاڼه دمالیه ورکوونکي لپاره اسانتیا منځته راوړې چې دخپلو اړتیاؤ

دپوره کولوپه موخه ګټور معلومات لاسته راوړي.
په دغه پاڼه کې مالیه ورکوونکی کولای شي د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون، بیلابیلې عامه خبرتیاوې او طرزالعملونه، فورمې اودهغوئ دبشپړولو لپاره لاربښوونې، لاربښودونه، ارشیف شوي سندونه، د موضوعي مالیې په هکله پوښتنې اوځوابونه او داسې نور ترلاسه کړي.
همدارنګه په دغه ویب پاڼه کې پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون تعلیماتنامه هم شتون لري دغه تعلیماتنامه د اړوندو مقرراتو ترڅنګه د قانون هره ماده زیاتره وخت د کومکي بیلګو په مرسته، په جلا توګه تشریح کوي.

دمالیاتي فورمو، لاربښودونو، نورو معلوماتو اومرستې لپاره تاسې کولای شي دمالیې وزارت، عوایدو لوی ریاست اویا دخپل سیمیز مستوفیت دفتر ته مراجعه وکړئ.


جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۰

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1390

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۰

Taxpayer Information Page: www.mof.gov.af/tax